(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپلې خبرې

درنو لوستونکوو !

د شين خالۍ ناول چې په څوارلسو برخوکې د لنډو کيسوپه ډول د هيواد په بيلابيلوخپرونوکې په ځانګړي توګه دانټرنيټ په پاڼوکې خپورشوی دي ، زموږ دګران هيواد دکلواو بانډو او کليوالي ژوند يوه نوې شان بيلګه ده چې زموږ د وروسته پاتې ژوندهغه ناخوالې په ګوته کوي کوم چې زموږ هيواد وال په تيره بيا ځموږ ځوان کول يا نسل پـه څومره ستونـزو او کړاونوخپلو هيلو او ارمانونوته د رسيد لو لپاره هلې ځلې کوي ترڅو خپلو سپيڅلو اهدافو ته ځان ورسوي.

زمادغه ليکنه زموږ دهيواد دکلو ا وباڼډويوژونـدی انځوردی چې د شين خالۍ اوډاکتر زيړګل په دغه ناول کې منعکس شـوی دی ا و د ادب مينه والو ته يې په ډيره مينه ډالۍ کوم.
د يادونې وړ بولم چـې په دغې ليکنې دهيواد وتلي ليکوال ، شاعر او کيسه ليکونکی ښاغلي سنګروال يوه سريزه ليکلې چـې دهـغو ددې پيرزوينې څخه دزړه د کـومې مننه کوم چې د خپلو ډيـرو مصروفتونو تر څنګ يې خپل وخت ددې ناول سريزې د ليکلوته وقف کړی دی.
په همدې ډول ښاغلي نجم الدين سعيدي دانځوريزې شاعرۍ تـرسرليک لانـدې هم يوه ادبي ليکنه کړې چـې دهغوی د اپيرزوينه د مننې اويادولو وړ بولم.

دهيوادځوان اوتکړه ليکوال او شاعرښاغلي اجمل اټک يوسفزي څخه هم مننـدوی يـم چې دناول پـه ليکلو کې يې خپلې معنوی مـرستې زماسره شريکې کـړې د ي او ددې اثر د چاپ او ډيزاين پـه برخه کې يې هم خپلې مشورو او نژدې مـرستو څخه ډډه ندە کړې.

همدارنګه دهغو نشريو اود انټرنيټي پاڼومسؤولينو څخه د زړه د کومې مننـدو ی يم کوم چې د دغـه ناول مختلفې بـرخې يې د شين خالۍ د لنډو کيسو تـرسرليک لاندې په خپلو علمي، ادبي او کلتوري پاڼوکې نشر ته سپارلي دي.

په پای کې ددرنو لوستونکوو څخه هيله کوم چې ددې ليکنې په اړه خپل رغنده وړانديزونه او ښې مشورې په موږ راولوروي.

ومن الله التوفيق

سميع الدين افغاني

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM



ننګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا سې شین خالی هم شته

خوشاله یم چې اوس زموږ یو شمیر شاعرانو شاعرۍ په څنګ کې د پښتو داستاني او هنري ادبیاتو لیکنې ، ودې او پرمختګ ته هم مخه کړې ده .
که د تیرې پیړۍ په لمړنیو لسیزو کې د لنډې کیسې لیکوال او مینه وال د ګوتو په شمیر و وخو اوس په لسګونو دي . ولې د ناول او رومان لیکوال لا اوس هم د ګوتو په شمیر دي .
د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ له مخې پښتو لنډه کیسه د لمړي ځل لپاره په ۱۹۰۸ م کال و کښل شوه چې د استاد راحت زاخیلي لـه قلمه څخیدلې او ښکه ده او « شلیدلې پنه» نومیږي .
همدا رنګه نوموړي لیکوال بیاد ۱۹۰۹ او ۱۹۱۰م کالو ترمینځ د ماه رخ یا «نتیجه عشق »په نوم ناول چې دیو عیني پیښې انځور دی هم لیکلی دی .
که څه هم له دغه ناول نه دمخه د ژباړې په بڼه موږ ته د دوه نورو ناولونو څرک هم په پښتو ادب کې لګیدلی دی چې لمړی یې «معرات العروس» دمیا حسیب ګل ژباړه او دویم ناول بیاد توبته النصوح په نوم یادیږي چې دغه ناول د میا محمد یوسف په زیار ترجمه شویدی .
له دې نه را وروسته په پښتو ژبه کې ناول لیکل دود شول . ولې دومره نه چې د ناول د مینه والو تنده پرې ماته شي .

د نیکمرغۍ خبره ده چې دا دستي مې د شین خالی په نوم یو اثر تر لاسه کړ چې ښايي د افغاني صاحب د سترګو لیدلې کیسه وي چې د نوموړي له خوا کښل شوې ده .
کله چې نوموړي ماته د شین خالی په نوم لیکنه را ولیږله چې څه پرې ولیکم ،نو په ډیره مینه مې دغه لیکنه سرتر پایه ولوسته ،خدای شته چې زه یې هم خپلو تیرو خاطرو ته ستون کړم او د خپل کلي ، کور ، او جرې او دیرې مې کېږې سترګو ته ودریدې .
د شین خالی لیکوال ښاغلي افغاني د خپل کلي ، کور ، دود او دستور په خپله لیکنه کې ډیر ښه انځور کړي دي ،د تورګنیف خبره « یوازې رښتیاویل که هر څومره غښتلي وي هنر ندی » نو ځکه خو دداستاني او هنري ادبیاتو لیکوال ته پکار دي چې خپلو لیکنو ته هنري جامې په تن کړي .
دهر ناول هډوکي او بدنه دناول مینځ پانګه جوړوي ،خو ددې لپاره چې دناول بدن ته ښکلې او زړه راښکونکې وریښمینې جامې په تن کړو غوره به وي چې دناول بڼه داسې را ونغاړو چې لوستونکی یې لـه بڼې او مینځپانګې نه رنګ او خوندواخلي . یانې ډیالوګونه یې اغیزمن ، ژبه یې خوږه او روانه ،کرکټرونه یې باید لکه بې کلماتو ژبه په سادګۍ سره خپل ځان پیدا کړي .

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM



ګنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ناول کیسه باید بازاري نه وي ، ښه به داوي چې ژبه یې له شعارونونه وژغورل شي په لیکنه کې اضافه کلیمې ،بې ضرورته جملې بیا بیا تکرار نـه شي او ناول باید د راپور تاژ بڼه خپله نکړي٠ له دې سـر بیره د لیکوال ژبه او ډیالوګونه بایـد د ناول له پیښو او کـرکټرونو سره متناسب وي٠ نا لستي کلیوال خپله ژبــه لري اود ناول لیکوال بـاید دهغه ښه استازیتوب وکــړي٠ همدارنګه لوستي کرکټر باید داسې انځورشي لکه څنګه چې دی،څکه چې ډیالوګونه یو داستاني اوهنریاثر ته سا ورکوي٠ ولې کله داسې هم پــه ډراماتیکو اثاروکې پیښیږي چې له ډیالوګونو پرته یو هنري اثر د لوبغاړي له هنري خوځښت او اکشن سره لکه بې کلماتو ژبه ځان ښيي ،لکه د چارلي چاپلین ځانګړي حرکتونه چې یو اثرته روح ښي٠ نوموړي د یو مرکې په ترڅ کې ویلې دي:

پوښتنه : چارلي که چیرې سینما زیږدلی نه وای تاسې به نن څوک وای ؟

ځواب : دهغه دوزخ پـه مینځ کې چې «دانتي» په خپل ګټور داستان «کمیدي الهې » کې انځور کړی دی یو نوم ورکی چارلي وای:

که چیرې موږ د ناول په لیکلو کې د بیلګې پــه توګه یادوشوو ټکو ته پاملرنه وکړو ، ښایي ناول داسې یو ځانګړی ریتم خپل کړي چې ځینې ډیالــوګونه یې ځــان د لنډې کیسې ریتم او شعر ته ورسوي٠

زما په اند په هر داستاني ژانرکې غوره ده چې د یوې کیسې اویا دیوې پیښې نکل داسی انځور شي چې د سوژې پټه دبدبه یې زیانمنه نشي٠

همدغه لاملونه دي چې د اوسني داستاني ادبیاتو پـلاټ د تیرو اولسي کیسو اوداستانونو په پرتله دتوپیر وړ دي٠کنه دپښتو اولسي داستاني ادبیات زرګونـه کاله عمر لـري چې له پښتنو سره یوځای زیږیدلي دي چې اوس موږ ډیرې بیلګې لــرو چې له اوسني ناول سره ډیر توپیرنلریاوهمدغه اولسي کیسې په دري بڼو موږ ته را پاته دي:

لمړی هغه کیسې دی چې په دیرو ، اجرو کې د نکلچیانو له خوا ویل کیدې او یا ویــل کیږي لکه د دوه ورونو کیسه٠ددغو کیسو دویم ډول هغه دی چې ځینې اولسي کیسې پــه نظم ویل شوې دي لــکه ممتاز شاهزاده او ګلوصنوبر کیسې٠

دریم هغه کیسې دي چې په نظم او نثر دواړو کې کښل شویدي یانې د کیسې مینځ مینځ کې نظم ته هم ځای ورکړشویدي چې دغه کار ښاغلي سمیع الدین افغاني هم کړی دی٠

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM



ګنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ په دغولرغونوکیسو کې دادم خان اودرخانۍ ،سیف الملوک او بدرۍ جمالې او په لسګونو نورې کیسې یادولی شو ۰
په پای کې ګران سمیع الدین افغاني ته دشین خالۍ دلیکلومبارکي وایم او په دې هیله چې درنو لوستونکوو ته په زړه پورې وي ۰

په درناوي
شهسوار سنګروال
۲۰۱۰ - ۸ - ۸ م۰کال
لندن
*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انځوریزه شاعري

محترمو لوستونکو !

دا یوه څرګند حقیقت دی چې په بشری نړۍ کې علم او تخنیک ورځ په ورځ د پر مخ تګ په حال کې دی او نړۍ وال په مختلفو برخوکې د نوی اکتشافاتو شاهدان دي چې بشر د علم ،فرهنګ او ادب په برخه کې هم لازمې لاسته راوړنې درلودلې دي.
پدې بحث کې په مشخصه توګــه هغه لاسته راوړنو ته اشاره کوم ،کوم چې د هرې جامعې د کلتور او ادب پورې تړاو لري او په هغه کې د لیکوالانو او شاعرانو ونډه او فعالتونو تر څنګ هغه لاسته راوړنې چې د ژبو او ادب د غنې کیدو په اړه تر سره کړې یادونه کوم.

هره بشرې ټولنه ځانله پوه او مدبره علمې شخصیتونه ، لیکوالان ، شاعران او هنرې استعـدادونه لــرې چې هر یو یې په خپله برخه کې د جـامعې او خلکو لپاره پـه خپل وخت کـې مشخص خدمتونه د خپلې پوهې اوقلم له لارې سرته رسولې چې دهغوې ابتکارات او هلې ځلې تلپاته او نه هیریدونکې دي.
موږ په هیوادونو او نړۍ کـې مشهوره لیکوالان پیژنو چې د هغو تاریخې لاسته راوړنــې د قدر وړ او بشریت ته د خپل قلم له لارې د خدمت مصدر ګرځیدلې دې.
همدارنګه د منطقې او د نړۍ په سطحه وتلې شاعران لرو چې هرچا په خپل دور کې خپل شعرونه ،مجموعې او دیوانونه پــه میراث پاته کړې اوپه ډیرو نـوربرخو کې هــم ددغسې لاسته راوړنو شاهدان یو.
زما مطلب پدې لیکنه کــې په مشخصه توږه د هنر او هنرمند پــه اړه کوم چــې د شـاعرانو ښکلې شــعرونه پــه خپل خـــوږو اوازونو کې کمپوزوې او بیایې خپلو اوریدونکو ته څه په ژوندۍ بڼه او څه هم د میدیا له لار وړاندې کوي.
پخوا که یو ښکلې شعر په یو ښکلې اواز او کمپوزکې د خلکو زړونو ته لارپیدا کوله خونن سبا ددغه ښکلې شعر ، اواز او کمپوزتر څنګ د یو ښکلې کلیپ جـوړولو ته هــم اړین ضرورت او اړتیا شته چې هنرمندان خپل فعالیتونه دبصرې میدیا ګانو بلخصوص تلویزیونو نو له لارې خپلو لیدونکو او اوریدونکو ته وړاندې کوي.

موږ نن سبا د ډیرو هنرمندانو د سندرو او کلیپونــو سره د تلویزون له لارې اشنا یو چې بعضې یې

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې او هغه انځورونه په نظر کې نيولي کوم چې د همغه مشخص شعر د شاعر د شعر انځور پکې ليدل کيږي مګر بعضي هنرمندان دا کليپونه داسې جوړوي چې نــه د شعر سره تړاو لــري او نه د شاعر د شعر دانــځور کومــه نښه پکې په سترګو کيږي.

د پورتني اصل په نظر کې نيولو سره په اوسنيو خاصو پرمخ تللو شرايطو کې بشــري ټولنه پــه مشخصه توګه انځورګره شاعرانو ته اړين ضرورورت احساسوي چې د داسې رشتې شاعرې يو نوي فن او قدم دی د هنر او ادبياتو په برخه کې چې پدې برخه کې د ادب د مينه والو توجه ورته اړوم.

انځوربزه شاعران هغه شاعران دي چــې هم ليکوال دي هم شاعر، هغوی خپل د شعر انځور په اوله کې په نثر ليکې او د خپل دانځور مختلف حالتونــه په نثر او په مناسب ځايــونو کــې
د شعر په بڼه ترسيموي او په همدې ډول د خپل د ښکلې شعر انځور په نثرې او شعرې بڼه ليکې او ټولنې ته يې وړاندې کوي چې دا کار که له يــوې خوا يوه نوې لاسته راوړنه ده د ننې جوامعو په ادبياتو کې د بلې خوا لازمه رهنما يې ده هغه خــوږ ژبو هنــر مندانو ته چې غواړې خپل د علاقې وړ شعرونه ته لازم او ښکلې کليپونه جوړ او خلکو ته وړاندې کړي.

په همدې هيلې ددې طرحی په نظر کې نيولو سره دادي خپله لمړنې لاسته راوړنه د شين خالی ترسر ليک هغه ناول دي چې پخوا د لنډو کيسو په ډول او اوس د همدې ناول په بڼه د ادب مينه والو ته وړاندې کوم او د بشري نړې ټولو شاعرانو اوليکوالانو څخه هيله لرم چې ددې اصل په نظر کې نيولو سره په دې برخه کې خپل ادبې فعاليتونه لاګړندي کړي.

قدرمنو لوستونکو !
لکه څنګه چې هره بشري ټولنه ځانله ځانګړې خصوصيات، کلتور، رسم ،رواجونه او منل شوې اصول لــري په همدې ډول په بيلابيلو پرګنو کې دا اصول، کلتور او منل شوي رسم اورواجونه سره توپير لري.

په جهاني کچه د غرب، شرق ،پرمختللو جوامعو او ورسته پاتې هيوادونو او همداډول د ممالکو په سطحه هم د مختلفو ولاياتو ،کلو او بانډو رسم ،رواج او خصوصيتونه سره تفاوت لري.

په همدې اساس په دې ليکنې کې د شين خالی ترسر ليک چې يوژوندی تاريخې کيسه او زمونږ د

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګران هیوادد کلیوالي ژوند هغه ریښتنې داستـان دی چې ددې دووپا کزړونو ځوانانانو شین خالی او زیړ ګل د ژوند د هیلو او ارمانو د پوره کیدو سربیره د کلو اوبانډو رسمونه، رواجونه او دخلکود مصرفیتونو انعکاس دی چې د شین خالې په لنډو کیسو کې څرګند شوی دی.

هیله ده چې دا لنډې ادبي ټوټې د لوستونکو د توجه وړ وګرځي او همدارنګه ددوستانو څخه هیله کیږې چې پدې برخه کی د دی لیکنې د لاغني کیـدو په اړه خپل رغنده وړاندیزونه له موږ سره په لاندې پته شریک کړي.

s-afghani@hotmail.de

په درنښت

سمیع الدین افغاني

۲۰۱۰ - ۵ - ۳ م کال

*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر سترې معلومېده ، په خپل چېركت پرېوت او د شين خالۍ پــه فكر كې بې هغه وختونه په زړه شول كوم چې هغې ته بې د زرګر د دوكان څخه خيالي چارګل رانيولــې وه او غوښتل بې چې شين خالۍ ته بې د كمكې اختر په مناسبت په اختر مباركې كې ډالۍ كړي ،چې هغه وخت بې په لاره كې د ځانه سره داسې زمزمه كوله :

خيالي چارګله
ښكلى چارګله شينو جانې له دې ورمه

هغه چې د شين خالۍ تورې زلفې ،ښكلى د غاړې هار او د جګې پوزې چارګل په سترګو كېده نو داسې به بې ويل:

زلفې بې تورې تور اوربل بې مزې دار دى نا
ځو مره ښايسته په غاړې پروت د زرو هار دى نا
دا سور چارګل بې پاس په پوزې پرې دار دى نا
مين بې كړمه
دا پټ كاته بې په زړګي ويشتل كوينه

زيړګل ته د شين خالۍ د بنګړو شرنګهار ډېر خوندور كاوه او د هغو په وصف كې داسې زمزمه كوله:

د شنو شنه بنګړونه ډك سپين مړوندونه دي
د بنګړو شرنګ بې ليوني كړه عالمونه دي
ظالمې كړې دي د خيا له ډېر كبرونه دي
ستې بې كړمه
شرنګ د بنګړو بې عالمونه خبروينه

او د خپلې د خورږ زړګي تسل بې په لاندې بيتو كې ختماوه:

خيا لي چارګل مې د اشنا په پوزه سپور ښكاريده
ځو مره ښاسته لباس كې وتې حال بې نور ښكارېده

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

ګنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په آخر کې به يې د وطن د افتخاراتو او د نيکونو په کارنامو داسې وياړ او يادونه کوله :

دا وطـــن زمــــوږه افتخــــار دی
دې کې موعزمت د نيـــــکه پلار دی
دا د افغــاني کلتـــوريادگـــار دی
لاس په گريبان گرځـــوله دشمن سره
مينه موږ لرو دخپـــــل وطن سره
دا وطن په موږ باندی ډير گـــران دی
دا زموږه خـــــوږ افغانستــــان دی

# گران وطن

دا مـو د خاپــــوړو کلی کــــور دی
دا مو د نيکـــــو د تـــوري زور دی
ورک به شي غليم چې مـخ يې تور دی
سر به ترې قربان کـــړم د بــــدن سره
مينه مــــوږ لرو دخپـــــل وطن سره
دا وطن په مــــوږ باندی ډير گران دی
دا زموږه خـــوږ افغانستــــان دی

لوړ چې په هـــوا کې يې بازان گرځي
هلته په ځنگلو کې يې زمريان گرځي
جوړ په سردرو کې يې طوطيان گرځي
مست يې بلبــــلان د باغ او بـڼ سره
مينـــه مــــوږ لرو د خپل وطن سره
دا وطن په مــــوږ باندی ډير گران دی
دا زمــــوږه خـــوږ افغانستـــان دی

دا وطن خوشحال غوندې بچيان لري
دلتــــه کې نازو انا لمسيـــان لري
لوی احمـد شاه ستر نوم په جهان لري

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library




## د شین خالۍ کیسه د انځوریزې شاعرۍ یوه ژوندۍ بیلګه ۰

افغاني حسن جوړ شنو خالو دی
چې بې وړی زړګی په پلمو دی

درنـو لوستونکو !

شین خالۍ دهیواد دمعاصر شاعر اولیکوال ښاغلی سمیع الدین افغاني یـو نوې اثر دی چې دادب مینه والو ته یې وړاندې کوي۰

هـو ! دښاغلی سمیع الدین افغاني خـېړنیز ،علمي او ادبـي اثرچې دلیکوالۍ اوشاعرۍ په تاریخ کې یوه نوې پانه ، روش او لاره په ګوته کړې ده چې شعر بې دشاعر د خیـال ددنیا څـخه دتصـویر او حقیقت پـه شـکل ژوندی ترسیم کړی دی۰

ددې اثر په روان کې شین خالۍ د زړه راز اونیاز دخپلې مورسره په لاندی ډول شریکوي:

ځان چې مې سینګارکړه بیانوځمه دګدر په لور
مورې دهــمزولــوسره نـن دمــازدیګرپه لور
ډیربــه شم خوشحاله چـې دیارشم دنظر په لور
اچوم ټکریــی چې افغاني کلتورمو ښکلی دی
مورې بنجاره مــامــا راغلي دی

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

داهغه نوې تګلاره ، روش او سبک دی چې معاصرو اوراتلونکو ځوانو شاعرانو ، لیکوالانو او خوږژبي هنرمندانــو لپاره ددې عصر د سمندر د څپانده څپو څخه ساحل ته د رسیدلو لار هواروي. ددې اثر په لوستلو د هغه لارښود د اصولو په رڼا کې چې افغاني صیب په ګوتو کړي تر او سه پورې داسې نسخه او لارښود لا چا پخوا اوبیا تر دې دمه نه دی وړاندی کړی. چې وروسته لدې به ځوان لیکوالان ، شاعران او خوږژبي هنرمندان ترې لازمه ګټه اخلي .

پدې اثر کې هغه حساس او په زړه پورې ټکیو ته لاس ورغزول شوی چې په هغه کې خیال او فکر ته کــوم چې د شاعر په شعر کې انځور شوی ،دعمل جامه اغوستی او هغه انځور چې لوستونکو او اوریدونکو نه شو کولای په شعر او اواز کې ژوندی مجسم کړي ،ده ورته عــلمي نسخه لیکلی او هغه نـــامرئی او مجهوله غـــوټه یې په ډیرروښانه ډول پرانیستی ده چې د شعراو ادب په دنیا کې یو نوې بدلون ګنلای شو. دبیلګې په توګه د شین خالی ناول چې یو انځوریزه او د شاعر ریښتینی داستــان د ی، د زمان او وخت د ناخوالو اومحدودیتونو ، رســم ، رواج او کــلتوري بندیزونو پر بنسټ بل رنګ بل نوم بل زمان اوبل مکان ورته ورکړ شوی د ی.

د ښاغلی سمیع الدین افغانی په دی اثر کــې اصلي هیــرو او اتل نــه شو کولې چې حقیقت په اصل رنګ بیان اومجبوریتونو دده شعر اوداستان د خیال او فکر په ټال کې انځور کــړي اویا داچې یو سلسله محدو دیتونو اوتنګ ماحول ، لرې والی او فراق ، عنعنې او رواجونه شاعر خپل د زړه او فکراحساس د قلم په ژبه انځور او تصویروي ، لکه چې وایې:

راشــه چې سپرلی دې شـــم ګلــزار دې شم
راشـــــه چې د بدې ورځې یار دې شـــم
ستـــــــا د پـــــاکې مینې محبت کې یار
ژوند شمـــه ورمـه شمــــه بهار دې شم

یا وائي:

نه شتــــــه بلـــــه لار ، نه بل تدبیر چیرې
راشـــــه چې مرهم دې شـــــم قرار دې شم

ولې افغاني صیب دا د قفس دروازه ور خلاصه، بندونه او دیوالونه ئې ورونړول او وی شو کولای چې ددی اثر په رڼا کې خیال اوفکرتــه د عمل جـــامه ور په ځان کــړي اوحقیــقي انخور اوتصویر

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوستونکو او اوریـدونکو تـه ور پـه لاس کـړي، لکه د شـیـن خالیـ کـوژدن زیړګل چې د هغې پـه وړاندیز او خوښه د شین خالیـ د خـورلنډې زرڅانګې دواده لپاره څه ولیکي او د هغې دواده په محفل کې د ساز او اواز سره یو ځای د هغه د خوښي پـه شپه کې بې پـه خپل خـوا ږه اوز کې مینه والو ته واوروي:

شپـې دې د برات شــه شـه کلـــونه دې اختر
پـل دې بخـــتور شــه ناوې پــــل دې بخـــتور

پل دې بختور شـــه ناوې مـیـنه کـې دې کورشو
نوې اشنـایي شـوه نـوی بــــل د میـنـې اور شو
ستا د حسن شـــمعه چــې روښانه پـه هـر لورشو
حســن دې ښـکلا دې چــیرې مـه شـــه د نــظر
پـل دې بخـــتور شــه ناوې پــــل دې بخـــتور

هو ! که زمونږ معاصره شاعران او لیکوالان د افغاني صیب د نوی تــک لاری پر بنسټ خپل اشعار د قیود او بند څخه وکاږی زمان یا مکان ورته قید نکړي ، بندونه او خنـډونه ونړوي او د خپل شعر انځور او داستان په خیال او فکر کې محدود نکړي بلکه یو ژوندی تصویر او جـسم ورته ورکړي چې ترڅو په ډیره سادګیـ بې خونږ ژبي هنرمندان په خپلو خواږو اوازونو کې کمپوز ،کلیپ او خپلو اوریدونکو اولیدونکو ته ډالیـ کړي۰
نو کله چې شعري ملغرلې د قلم پــه ژبه د کاغذ په مخ کې پیل شــي او هنر مند ورتــه په خونږ اواز، ښکلې کـمپوز او کلیپ کې ژوندی، ژوند ورکــړي لکه د افغاني صیب دا لانــدې شعر چې د وطن او پرګنو تکړه او خونږ ژبي سندرغاړي محترم طاهر شباب په خواږه او زړه وړونکي اواز کې کمپوز او کلیپ شوی او لـرا او بر پـښتونخوا او ټــولو افغـانانو د خوښی محافل رنګینوی او اوریدونکي بې په شوق ، او احسا س اوري او خوند ترې اخلي۰
د یادولو وړ ده چې دا سندره نه تنها زمونږ پــه ګران هـیوادکـې بلکه په نړیوال کچه په ځانګړې توګه په هندی ، عربی او انګلیسی ژبـو کې هم کمپوز شوې ده چې ډیر اوریدونکي او مینه والري:

ستـــا پـــه اننـګوکې
چــې د چـا دوینــې رنګ دی

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د پــــاکــې مــینــې
حقیقت پــکې ځــرګند دی

ما ویل ښکلې دې ځواني ده
دې ویــل مینــه رسوایي ده
مـــا ویل زه دې لیـــونی کړم
دې ویل یارمې غنم رنګ دی

مـــا ویــل راشه مازیګر ته
دې ویــل دربـــه شم ګدر ته
مـــا ویـــل لاره به دې څارم
ویل منګی مې شین په څنګ دی

---------

هو ! داوه یوه لنډه یادونه چې ما د افغاني صیب د نوي اثر په لوستلو په سپیڅلې هیلې او مسؤولیت ولیکله او تاسی درنو لوستونکوته یې په ډیر درناوی وړاندی کوم .
زه افغاني صیب ته د لوی خدای لـه دربـاره د سلامتی او اوږده عمر هیله کوم ،ترڅونورهم د شعر اوادب په برخه کې نوي اوپه زړه پوری مطالب چې ورسره شته ولیکي او د ادب مینه والـو ته ئې وړاندې کړي.
همدارنګه د قلم په لاس لیکوالانو ، شاعـرانـو اوصاحب نـظرانو څخه په درناوي هیله کوم چې ددې لیکنې د لا پیاوړ تیا او غنــې کیدو لپار خپلې رغنده وړاندیزونه ، نظریات او لیکنې د ادب مینه والو سره شریکې کړې.

ومن الله تـوفیـق
نجـم الـدین سعیـدي
۲۰۱۰ - ۵ - ۲۰ م کال
بروول - جرمني

*** ******

COPYRIGHT © AFGHANNANG.COM ALL RIGHTS RESERVED ~ AFGHANNANG@HOTMAIL.COM

